سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۱/۲۸

# تـــه او زه

ته چـی چا وژلی، زه یی هـم یمـه
چاچـی تـه رټلـی، زه یی هـم یمـه

ده کیسـه د نـن او د پـرون یـوه
تـه چـی یی لوټلی، زه یی هم یمه

ټول کاروان د تـمـی بـلا وخوړه
تـه یی هم خوړلی، زه یی هم یمه

تا بانـدی اوربل دی په ماهم بل دی
خومره چی سیزلی، زه یی هم یمه

نشته چاته پته بـی له ما اشـنا
ته چی چا زبیښلی، زه یی هم یمه

ماته د غلیم زوال نـژدی ښکاری
تـه یی که لمسولی، زه یی هـم یمـه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

اوس به لاس په لاس مقابلې ته ځو

ځوګرم سنګر، ګرمې مورچې ته ځو

هرغاصب نه حق لکه انسان غواړو

لوی افغان ته، لوی افغانستان غواړو

د منظور پښتين د نيولو دويمه ورځ

جنوری/۲۷/۲۰۲۰

تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

تــه او زه